مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۶/۰۹/۰۸

# یوټوپیا او ډیسټوپیا

## قصه په سلو ټکو کې

ملګری مې چې د یو لوی مولوي صاحب زوی دئ ، اوس وزیر سوی. په ډاډ ئې وویل:

ـ وطن مو اوس یوټوپیا دئ. ښو ورځې ورسره وم، ډک دسترخوانونه، نرمې بسترې، ساتونکي، موټرونه او داسي دروازې مې ولیدې چې ببره ترې بهر پاته کېده. رښتیا هم، وطن یوټوپیا وو.

بیا بل ملګری مېلمه کړم، د پخواني نظام د یوه اروابناد عسکر زوی. راته وې ویل وطن ډیسټوپیا دئ. ختین کور، وچه ډوډۍ، د ماشومانو لوښي پېښي، د پولیو وهلي مېرمن ئې ماتي لګړي. یوټوپیا او ډیسټوپیا راته دوه جلا وطنونه نه سوه، اوس د یوه ښار د دوو دروازو نومونه دي.

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ